# هيڅ مسلمان نشته چې په يو مصيبت اخته شي او هغه څه ووايي چې الله تعالی يې ورته اٖمر کړی يعنې: {إِنَّا لِلهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ} [البقرة: 156]،اللَّهُمَّ أْجُرْنِي فِي مُصِيبَتِي، وَأَخْلِفْ لِي خَيْرًا مِنْهَا) {يقينا چې موږ د الله يو او موږ هغه ته ورګرځېدونکي يو} اې الله! ماته زما د مصيبت بدله راکړه او له هغه څخه غوره راکړه، مګر دا چې الله به له هغه څخه غوره بدله ورکړي

له ام المؤمنين؛ ام سلمه رضی الله عنها څخه روایت دی وایي چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي چې فرمايل يې: "هيڅ مسلمان نشته چې په يو مصيبت اخته شي او هغه څه ووايي چې الله تعالی يې ورته امر کړی يعنې: {إِنَّا لِلهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ} [البقرة: 156]،اللَّهُمَّ أْجُرْنِي فِي مُصِيبَتِي، وَأَخْلِفْ لِي خَيْرًا مِنْهَا) {يقينا چې موږ د الله يو او موږ هغه ته ورګرځېدونکي يو} اې الله! ماته زما د مصيبت بدله راکړه او له هغه څخه غوره راکړه، مګر دا چې الله به له هغه څخه غوره بدله ورکړي" ام سلمه رضي الله عنها وايي: کله چې ابو سلمه مړ شو، نو ما (له ځان سره) وویل: کوم مسلمان به له ابو سلمه څخه غوره وي؟ هغه لومړی کور و چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ئې هجرت وکړ، (خو بيا هم) ما دا دعا وکړه، نو همغه و چې په بدله کې الله تعالی رسول الله صلی الله علیه وسلم راکړ.

[صحيح دی] [مسلم روایت کړی دی]

ام المؤمنين ام سلمه رضي الله عنها وايي چې هغې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه يو ځل اورېدلي و چې فرمايل يې: هر مسلمان ته چې يو مصيبت ورسېږي او هغه څه ووايي چې الله تعالی يې ورته ويل روا کړي دي: {إِنَّا لِلهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ} [البقرة: 156] (اللهم أجرني) ای الله ماته اجر راکړې، او ماته زما د صبر اجر راکړې، (في مصيبتي) زما په هغه مصيبت کې چې رارسېدلی دی (وأخلف لي) او په بدل کې يې (خيرًا منها) له هغه غوره راکړې، مګر دا چې الله تعالی به په بدل کې له هغه غوره ورکړي. وايي: کله چې ابو سلمه وفات شو نو ما وويل: کوم مسلمان به له ابو سلمه څخه غوره وي؟! هغه خو لومړنی کور و چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته يې هجرت وکړ، خو بيا الله راسره مرسته وکړه او ما وويل (يعنې دا دعا مې وکړه) همغه و چې الله تعالی په بدل کې رسول الله صلی الله علیه وسلم راکړ، چې له ابو سلمه څخه غوره دی.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65772

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY

لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee